


نبوي مرغلري:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:

ژباړه: له نېکۍ پرته؛ بل شی د انسان عمر نه زياتوي او بې له دعا بل شی د الهي پرېکړي (تقدير) مخه نه نيسي.

«رواه ابن ماجه»

طلوع افغان



پخې ويناوې:

حضرت فضيل بن عياض رحمه الله:

دوه خويونه د انسان زړه سختوي:

۱- ډېري خبري کول.


۲- ډېر خوراک کول.

"الزهد الكبير ۱۷۶"

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"   د امتياز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست   په اوونۍ کي دوه واره چاپيږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، دوشنبه ۱۰/ذوالقعدة الحرام/۱۴۴۷ هـ ق، ۷/غويی/ ۱۴۰۵ ل کال - ګڼه (۷)   Monday-27-April-2026   Issue: 7

د مطالبو سرليکونه



د طلوع افغان خبري (سرليکنه)

نړۍوالي رسنۍ د اسلام او مسلمانانو تصوير څنګه وړاندي کوي؟

په سينمايي فلمونو کي د اسلام او مسلمانانو څېره په لوی لاس ډېره بده معرفي کېږي، اما په بدل کي يې د نشنليزم، فيمينيزم، سيکولريزم او نورو مفکورو د ترويج له پاره خورا منظم کار کېږي.

د هند سينما خو په اصل کي د نشنليزم او هندو مذهب يو ستر تبليغاتي ډګر دی، هنديانو د خپلو توليد سوو فلمونو له لاري په ډېر برياليتوب سره خپل هيواد، کلتور او مذهب په ټوله نړۍ وپېژندلی، دوی خپل مذهب په ډېر ښايسته قالب کي اچوي او په نړۍ يې ويني.

په سينمايي فلمونو کي معمولاً نشليستان، فيمينستان، سيکولران، هندومذهبه د فلم اتل لوبغاړي معرفي کېږي او تصوير يې ډېر مثبت وړاندي کېږي، اما مسلمانان بيا وروسته پاته، عياش، بدرنګه، بې عزته، بې تعليمه، سرټمبه او جنجاليان معرفي کېږي.

بدبختي دا ده چي نړۍوالي رسنۍ او سينما د کفري هيوادونو تر تأثير لاندي دي، نو طبيعي ده چي د هغوی د ګټو له پاره به استعمالېږي، اړتيا دا ده چي بايد مسلمان هيوادونه هم داسي قوي رسنيزي شبکې او سينماوي ولري چي د اسلام او مسلمانانو رښتينې څېره نړۍ ته وړاندي کړي.


په مسلمانانو کي د دعوت کوونکو ځيني ډلي سته چي مختلفو سيمو او هيوادونو ته سفرونه کوي او د اسلام تبليغ ورته کوي، دغو خلکو ته زموږ په ټولنه کي تبليغيان وايي، دوی ډېري پيسې او انرژي مصرفوي او تر نورو هيوادونو ځي، هلته په دعوت او تبليغ کفار اسلام ته را بولي.

خو د دې تر څنګ، که چيري موږ د سينما او رسنيو څخه د اسلام د تبليغ له پاره ګټه واخلو او له دې لاري د اسلام او مسلمانانو څېره په سم ډول معرفي کړو، نو دا به خورا ډېره مفيده تمامه سي.

عام خلک رسنۍ او سينما ډېره تعقيبوي، نو طبعًا د خپرېدونکو موادو څخه يې ډېر ژر اغېزمنېږي، همدا لامل دی چي د نړۍ ډېر ملتونه دې ټکي ته متوجه سوي او له دې لاري يې د خپل مذهب، کلتور، ژبې او بېلابېلو مفکورو د ترويج هڅو ته مخه کړې.

دا په اصل کي د فکري جګړې يو ډول دی، چي کفار يې د يوه قوي حربې په توګه، د اسلام او مسلمانانو پر ضد کاروي، اميد سته چي مسلمانان هم ځانونه په دغه مهمه برخه کي ماهر کړي او له دې عظيمي وسيلې د اسلام په ګټه کار واخلي.   اداره

د اروپايي اتحاديې ځانګړي استازي: افغاني توکي په اروپا کي ښه بازار لري او د لاسرسي له پاره يې هڅې ګړندۍ سوي



د هيواد د بهرنيو چارو وزارت مالي او اداري مرستيال دوکتور محمد نعيم د اروپايي ټولني له ځانګړي استازي جيلز برټرنډ سره کتلي دي.

ياد وزارت په يوه خبرپاڼه کي ليکلي، په دې کتنه کي د دوه اړخيزو سياسي، اقتصادي او سوداګريزو اړيکو او دوامداره همکاريو پر پراختيا خبري سوي دي.


د بهرنيو چارو وزارت مرستيال د اروپايي اتحاديې له بشري مرستو مننه کړې او ټينګار يې کړی، چي مرستي دي د دوامداره پرمختيايي پروګرامونو پر لور واوړي، څو کاري فرصتونه زيات او د خلکو د اساسي ستونزو په هواري کي اغېزناک رول تر سره سي.

هغه همدارازد متقابل درناوي پر بنسټ پر متوازنو اړيکو ټينګار کړی او زياته کړې يې ده، چي د ستونزو د حل له پاره ښه او مؤثره لار خبري او ډيپلوماسي ده او د ستونزو په هواري کي دا د اسلامي امارت لومړيتوب دی.

ورته مهال د اروپايي اتحاديې ځانګړي استازي هم د ستونزو د هواري له پاره، معقوله لار ډيپلوماسي او خبري ګڼلي او له افغانستان سره يې د دوامداره همکاريو ژمنه څرګنده کړې ده.

۴مخ

د ښاري ماسټر پلان تجديد نظر او پراختيا بهير پيل سو




د کندهار ښاروالۍ د رهبرۍ د پرله پسې هڅو او رسمي غوښتنو په پايله کي، د کندهار ښار د ماسټر پلان د تجديد نظر او پراختيا بهير عملاً پيل سو، چي دا اقدام د ښار د بنسټيزو ستونزو د حل او د راتلونکو لسيزو له پاره د يو معياري ښاري چوکاټ د رامنځته کېدو پر لور مهم ګام بلل کېږي.

د کندهار ښاروال مولوي عبدالله روحاني په مشرۍ، د ښار دسته تنګونو او د ماسټر پلان د نستوالي ستونزي د هيواد له مرکزي ادارو او مشرتابه مقام سره شريکي سوي وې. په همدې لړ کي کابل ته د تر سره سوي سفر پر مهال، د کور او ښار جوړولو له وزارت سره تخنيکي ناستي تر سره سوي، چي په پايله کي د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی له لوري اړوندو ادارو ته هدايت وسو، تر څو ژر تر

۴مخ

د اوبو کانال جوړ او ګټې اخيستني ته وسپارل سو




د کندهار ولايت د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست له لوري د ميوند ولسوالۍ کي د ګرم آبک په کلي کي د (3.2) ميليونو افغانيو په لګښت، د اوبو د کانال جوړولو چاري بشپړي او ګټې اخيستني ته وسپارل سو، چي پر مهال يې د کندهار ولايت د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست او ولسوالۍ مسئولينو د يادي ولسوالۍ علماء کرامو، مخورو، سپين ږيرو، ځوانانو او عامو خلکو ګډون کړی و.

ياد کانال چي د کلو، بيارغوني او

۴مخ

مهاجرينو ته د پاکو اوبو رسولو يوه شبکه جوړه سوه




په کندهار کي مهاجرينو ته د پاکو اوبو رسولو د يوې شبکې جوړولو چاري بشپړي او ګټې اخيستني ته وسپارل سوه.

د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست وياند رحمت الله شاکر ويلي، د کندهار ولايت د ژړۍ ولسوالۍ د بيرته راستنېدونکو مهاجرينو په کمپ کي د دوو ميليونو او ۹۰۰ زره افغانيو په لګښت، د پاکو اوبو رسولو د يوې شبکې جوړولو چاري بشپړي او ګټې اخيستني ته وسپارل سوه.

۴مخ

له اړمنو کورنيو سره د خوراکي توکو او نغدي مرسته وسوه




د کندهار ولايت د امنيې قوماندانۍ اړوند، د نشه يي توکو په وړاندي د مبارزې مديريت له لوري د ۳۳۷ اړمنو کورنيو سره د ۱۱ قلمه خوراکي او غير خوراکي توکو مرسته وسوه.

ياد اړمن کسان چي د کندهار ښار له مختلفو ولسواليو را ټول سوي، چي غربت يې د مشخص استعلام په توسط، د کلي امام او د ګذر وکيل په ذريعه ليکل سوی او د تثبيت کمېټې تر آرزوني وروسته واقعي مستحق بلل سوي وو، چي زياتي يې بې سرپرستي مېرمني وې.

۴مخ

د ترافيکو مديريت يو شمېر بې اسناده موټرونه توقف کړل



د کندهار ښار د ترافيکو مديريت له لوري د ترافيکي نظم د تأمين او د قانون د تطبيق په موخه، د سټېکر لرونکو وسايطو په وړاندي ځانګړی کنټرول تر سره سو.

په ياد کنټرول کي هغه وسايط چي يوازي يې د سټېکر په لرلو سره فعاليت کاوه، خو تر اوسه يې قانوني اسناد (پلېټ او جواز سپر) نه وو ترلاسه کړي، توقف او د ترافيکو په مديريت کي ودرول سول.

يادو وسايطو ته به تر هغه وخته چي قانوني اسناد ترلاسه نه کړي، د فعاليت اجازه ورنه کړل سي.

۴مخ

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

ليکوال: عبدالله فاراني (اشتياق احمد رح) ژباړه: مولوي محمد اکبر ۳۸ برخه

امام شافعي رحمه الله ويلي: ما يو ځل د امام مالک رحمه الله پر دروازه زبر – زبر خراساني آسان او مصرى غاتري وليدلې، ما پوښتنه وکړه، چي دا د چا دي؟ امام صاحب وويل: دا مي ټول تاته درکړي دي.

امام شافعي رحمه الله ويلي: د دې په اورېدلو سره زه اندېښمن سوم، نو ومي ويل: تاسو د هغوى څخه لږ تر لږه يو ځان ته پرېږدى!

زه د الله جل جلاله څخه شرمېږم، چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښار د چارپايانو يا حيوانانو په پښو پايمال کړم.

د امام مالک رحمه الله کېله ډېره خوښه وه او د کېلې په اړه به يې ويل: پر دې نه مچ کښېني، نه خيرن لاس ور وړل کېږي، له جنتي مېوو سره مشابه ده، په يخ او ګرمي کي پيداکېږي او دا د جنت د مېوو ځانګړتيا ده يعني په هر فصل کي پيداکېږي.

امام مالک رحمه الله د خپلي کورنۍ، بال و بچ سره په ډېر شفقت مخامخ کېدى، د ښه محبت ښښتن و، ډېر لږ خوراک يې کاوه، يوازي مسکل يې، په خلاصه خوله يې نه خندل، تجارت يې کاوه او له هغې لارې يې د ژوند ټول مصارف پوره کول.

کله چي به د ده استاد ربيعه رايي دى وليدى، چي را روان به و، نو وى به يې ويل: عاقل راغلى!

ابن مهدي ويلي، زما په نظر امام مالک، سفيان ثوري، شعبة او ابن مبارک کي تر ټولو زيات عقل مند امام مالک، زما سترګو تر ده ډېر بارعب، عقلمند، متقي او د لوړ دماغ ښښتن نه دى ليدلى.

ابن وهب ويلي: موږ د امام مالک څخه تر علم زيات ادب زده کړى دى.

يحيى بن يحيى اندلسي د امام صاحب څخه د علم تر لاسه کولو وروسته، تر يو کال پوري د هغه په خدمت کي و اوسېدى اسلامي آداب يې زده کړل، نوموړى زياتوي د امام صاحب د عادتونو د زده کړي له پاره له هغه سره يو کال پاته سوم.

امام صاحب ډېر حق ګو و... د خپل وخت حاکمانو ته يې په ډېر جرئت سره د حق خبره کوله.

يووار يو چا نيوکه وکړه: تاسو ظالم او جابر چارواکو ته ځى او راځى؟

امام صاحب په جواب کي ورته وويل:

د حق وينا له پاره ورځم... د حق خبره که د دوى په مخ کي و نه کړم، نو نوره به چيري وسي.

امام مالک رحمه الله ويلي: زه خليفه ابو جعفر منصور ته څو ځله ورغلى يم، مګر ما هيڅکله د هغه لاس نه دى مچ کړى.

په هغه وخت کي نورو ټولو خلکو د خليفه لاسونه مچول، يو ځل منصور مديني منورې ته راغى، ده ته يې وويل: مالکه! ستاسو وېښتان ډېر سپين سوي دي!

امام مالک رحمه الله يې په جواب کي وويل:

اميرالمؤمنينه! د چا چي عمر زيات سي، نو په وېښتانو کي يې سپينوالى زياتېږي، تردې وروسته خليفه وويل:

مالکه! تاسو په صحابوو کي عبدالله بن عمر پر خبره باور کاوه، د دې حکمت څه دى؟

امام صاحب جواب ورکړ:

اميرالمؤمنينه! هغه آخري صحابي و، چي زموږ په وخت کي ژوندى و، د اړتيا په وخت کي خلکو د هغه څخه مسئلې پوښتلې.

نور بيا...

د اسلامي نظام پر وړاندې زهرجن تبليغات

حسان مجاهد

څلورمه برخه

د دولت او ولس ترمنځ واټن رامنځته کول: په دې کي هيڅ شک نسته چي کله نظام ولسي ملاتړ ولري او نظام د ولس ګټو ته لومړيتوب ورکوي، نو دواړه کولاى سي دوام او پرمختګ وکړي، ځکه نظام د ولس په ملاتړ ټينګېږي او ولس د عادل او مسئول نظام تر سيوري لاندې سوکالي مومي.

خو برعکس کله چي د نظام او ولس ترمنځ فاصله پيداسي، بې‌باوري رامنځته سي، اختلاف او کرکه خپره سي، نو پايله يې دا وي چي نظام له جدي ننګونو سره مخ سي او ولس له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګرېوان سي.

د نظام مخالفين همدا هڅه کوي چي د اسلامي امارت او افغان ولس ترمنځ، واټن رامنځته کړي او د خلکو باور پر نظام کمزورى کړي. دوى د خپلي موخي له پاره له بېلابېلو شايعاتو او ناسمو تبليغاتو څخه کار اخلي، لکه:

– که چيري ولسي يا پخوانى نظامي کس، د شخصي دښمنۍ يا لهانجې له امله ووژل سي، دوى سمدستي دا تور پوري کوي چي ګواکي دا کار د نظامي چارواکو له لوري سوى دى.

– که څوک د غلو يا اختطافګرو له خوا وتښتول سي او مال ځني واخيستل سي، دوى دا تبليغ کوي چي دا غوښتنه د نظامي چارواکو له خوا ځني سوې وه.

– که د عامه او پراخي ګټې له پاره لکه: (د سړک جوړولو يا پراخولو پر مهال) د چا کور يا دوکان ونړول سي، دوى يې د ظلم او زور زياتي په نوم خپروي.

– که په کوم ځاى کي په ناقانونه ډول جبري نکاح وسي، هغه هم د نظامي چارواکو پر غاړه اچوي.

او ورته نوري پېښې هم د تحريف او مبالغې له لارې داسي وړاندې کوي چي ګواکي ټولې ستونزې د نظام له لوري دي.

د دغو شايعاتو موخه داده چي وښيي ګواکي امارت يو ظالم نظام دى، پر خلکو په زور واک چلوي، ولس ترې ناراضه دى او د ملاتړ اراده ورته نه لري.

افغان ولس بايد د هري پېښې حقيقت له باوري او رسمي سرچينو وڅېړي، نه دا چي د تبليغاتي جګړې قرباني سي. د ولس او نظام ترمنځ اعتماد د ثبات بنسټ دى او د همدې اعتماد ساتنه د ټولو ګډ مسئوليت دى.

نور بيا...

واکمنو ته سالمي او مسلکي مشورې ورکول؛ د هر فرد شرعي او ټولنيز مسئوليت دى!

نعمت الله "شاکر"

مسلمانان په دې مکلف دي، چي اسلامي حکومت ته د خپلي پوهي، مسلک او تجربې پر اساس مشورې ورکړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته صحابه وو مشورې ورکړي دي او هغه مبارک عمل هم په کړى دى.

همداسي راشده خلفاوو ته صحابه وو رضي الله عنهم او تابعينو مشورې ورکړي او هغوى عمل په کړى دى. د دليل او شاهد په توګه ځيني بېلګي نشروم:

۱– حضرت حباب بن منذر رضي الله عنه د يو نظامي کارپوه په توګه، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د بدر په غزا کي مشوره ورکړه، چي هلته به مېشت سو او د خپل نظر استدلال يې هم وکړ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم يې مشوره ومنله، حباب بن منذر رضي الله عنه خپل مسئوليت ادا کړ.

۲– حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د احزاب يا خندق په غزا کي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د خندق ايستلو مشوره ورکړه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم يې مشوره ومنله او خندق يې وايستى، سلمان فارسي رضي الله عنه خپل مسئوليت ادا کړ.

۳– د حديبيې تر تړون وروسته، صحابه وو ځانونه له احرامه نه ايستل، حضرت ام سلمة رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مشوره ورکړه، چي ته خپل سر وخرييه!

۴– د ابوبکر صديق رضي الله عنه په خلافت کي، د مرتدينو او نبوت د دعوى کوونکو سره غزا او جهاد په دوران کي د قرآنکريم حافظان شهيدان سول. حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم خليفه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته د قرآنکريم د را جمع کولو نظر ورکړ، د هغه له مخالفت سره سره يې ټينګار پر کاوه، آخر يې قناعت ورکړ او د قرآنکريم د سورتونو او آيتونو د جمع کولو له پاره يې کمېټه وټاکله او قرآنکريم يې جمع کړ. حضرت عمر رضي الله عنه خپل مسئوليت ادا کړ.

۵– د حضرت عمر رضي الله عنه په دوره کي له روميانو سره په جهاد کي، حضرت علي رضي الله عنه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته مشوره ورکړه، چي ته هلته پاته سه، هغه يې مشوره ومنله او هلته پاته سو.

د شرابو د حدودو اړوند، صحابه وو عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته مشوره ورکړه، همداسي د خراج اړوند صحابه وو مشورې ورکړلې.

۶– د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په خلافت کي د ارمنستان، آذربايجان او عراق سيمو تر فتحو وروسته، هلته د قرآنکريم د قرائتونو اختلاف پيدا سو، حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه د شام غزا ته تللى و، د امت د اختلاف خطر يې محسوس کړ، مديني منورې ته چي راغلى، حضرت عثمان رضي الله عنه ته يې وويل: دا امت درک کړه، مخکي د دې چي د يهودو او نصاراوو غوندي د الهي کتاب په اړه سره مختلف سي. حضرت عثمان رضي الله عنه د ام المؤمنين حفصې رضي الله عنها څخه هغه قرآنکريم راوغوښتى، چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په خپله دوره کي جمع کړى و. د هغه څخه يې څو نسخې وليکلې، د حفصې رضي الله عنه قرآنکريم يې بيرته هغې ته وسپارى، کاپي سوي قرآن کريمونه يې شام، عراق او نورو سيمو ته واستول. دلته هم حضرت حذيفة بن اليمان رضي الله عنه خپل مسئوليت ادا کړ او د وخت امير المؤمنين يې مشوره ومنله او د عظيم بحران مخنيوى وسو.

جوماتونو رسوا کړو!

بشير وفا "حقپال"

يو عرب ليکي: په يو جومات کي مي لمونځ وکړ، څنګ ته ناست د پاخه عمر سړي راته وکتل، زما غوږ ته يې خوله رانژدې کړه او راته کړه يې: په جومات کي لومړيو صفونو ته وګوره! او د لمونځ کوونکو مخونو ته ښه ځير سه! ما همداسي وکړل، هغه بيا راته وکتل، ما ورته وويل: مطلب مو څه دى؟ هغه راته وويل: آيا په دغو خلکو کي شتمن او د لوى منصب خاوند څوک وينې؟ ما ول ډېر کم!

هغه راته وويل: بلکي اکثره يې کارګر، مزدوران، موټر چلوونکي او عام خلک دي، ما ول هو کې! بالکل همداسي ده.

سړي راته وويل: د الله تعالى په نزد به زموږ او ستاسو مقامونه همدا رقم وي!

هغه زياته کړه: ما ته وګوره او ځان ته وګوره! په آخرت کي به موږ او تاسو په همدې وروستيو صفونو کي يو.

د پاخه عمر سړي زياته کړه، جوماتونه دي تل آباد وي، موږ يې رسوا کړو او د الله تعالى په نزد يې زموږ ځايونه راته لڅ کړل.

د سړي خبرو حيران او هېښ کړم! د هغه خبري زما پر مخ درنه څپېړه وه، راويښ يې کړم او دا الله تعالى دا خبره را په ياد سوه چي فرمايي:

ژباړه: (په ايمان او دين کي)، مخکي خلک به تر ټولو مخکي وي او دوى به (الله تعالى ته) نژدې وي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم، دا خبره را په ياد سوه، چي فرمايي:

ژباړه: که دوى پوه سي چي د اذان جواب او لومړي صف کي څومره ثوابونه دي، نو دوى به پر خاپوړو ورسي.

دا کرښې ډېرو مؤمنانو ته ورسوئ، په باور سره ويلاى سو، چي ځيني خلک د جماعت د لمانځه په باره کي سخت کمزوري يو، ډېر کله هغه وروستي صفونه هم را څخه پاته وي.

د تقليد شرعي حکم

پوهيالی عبدالله خان "سنګري" لومړۍ برخه

خلاصه: په دې څېړنه کې د تقليد پر شرعي حيثيت باندې بحث سوی دی، چې آيا د يو معين مذهب يا يو معين شخص پيروي جواز لري او که نه؟ په اسلامي اُمت کې د اختلافي موضوعاتو څخه يوه هم د تقليد مسئله ده، چې ځيني يې تقليد له سره نه مني او وايي، چې ډېر قرآني آيتونه او نبوي حديثونه د تقليد په منع کې را غلي دي؛ نو بناءً تقليد ناروا دی!

له بلې خوا ډېری علماء کرام په دې اړه تفصيلي نظر لري او وايي: په کومو آيتونو او نبوي حديثونو کې چې د تقليد غندنه سوې ده، هغه د دين په اُصولو او عقيدوي مسائلو کې ده، نه په فرعي مسائلو کې، په فرعي مسئلو او عملونو کې د څلورو مذهبونو اکثر پيروان د اُمي له پاره تقليد واجب او د مجتهد له پاره ناروا ګڼي.

په دې څېړنه کې د تقليد اړوند مسائلو باندې بحث سوی، د مانعينو او مجوزينو اقوال او دلائل د معتبرو او معتمدو منابعو (قرآنکريم، حديث او د اُصول فقه کتابونو) په استناد څېړل سوي دي. مذموم تقليد د علماوو په اتفاق سره ناروا ګڼل سوی دی، خو د محمود تقليد په اړه دوې ډلي علماء کرام مانعين او مجوزين خپل دلائل وړاندي کوي، چې د مانعينو په ډله کې ابن حزم، ابن قيم او امام شوکاني رحمهم الله دي او د مجوزينو په ډله کې د حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي مذهب پيروان دي، په پايله کې د مانعينو پر خلاف، د مجوزينو قول متأخرينو علماوو د دلائلو د قوت پر اساس راجح او غوره ګڼلی دی.

کليدي کلمې: تقليد، حرام، شريعت، عقايد، علماء، محمود او مذموم.

مقدمه:

حمد او ثنا هغه الله تعالی لره ده، چې انسان ته يې د هغه څه ښوونه وکړه چې نه په پوهېدی، د هدايت او ګمراهی دواړو لاري يې ورته روښانه کړې، درود او سلام پر هغه پيغمبر صلی الله عليه وسلم، چې بشريت يې د هلاکت له کندي خلاص او د نجات پر لور روان کړ او يو داسي دين يې ورته راوړ، چې تر قيامته پوري د دوی د ژوند د ټولو ستونزو حل کوونکی دی.

اسلامي شريعت د دې له پاره راغلی دی، چې په احکامو او مسائلو باندي يې عمل وسي او دا خو سمه ده که څوک د دې ورتيا ولري چې د شرعي مسايلو په اړه، په خپله تحقيق وکړي، دلايل يې وڅېړي او د پوهي او بصيرت پر اساس په شرعي احکامو عمل وکړي، دا مطلوب او غوره کار دی، خو شرعي نصوص هم د الهي حکمت له مخي د ثبوت او دلالت دواړو له اړخه ځيني قطعي او ځيني ظني دي او ورسره الله تعالی د خپل حکمت پر بنسټ، د انسانانو په ذهنونو او استعدادونو کي هم توپير ايښی دی، نو په داسي يوه فضا کي هرومرو د نصوصو د فهم او حتی په ځينو موارودو کي د ثبوت په اړه اختلاف رامنځته کېږي.

دا هم روښانه ده، هر شخص د دې توان او ورتيا نه لري، چې د شرعي نصوصو څخه نېغ په نېغه ځان ته حکم را واخلي او عمل په وکړي او بل دا چې د تقليد شرعي حکم موضوع د اسلامي علماوو تر منځ يوه اختلافي موضوع ده، په دې اړه څېړني ته ځکه ډېره اړتيا ليدل کېږي، ترڅو دا روښانه سي چې په کومو مسائلو کي تقليد روا او په کومو کي ناروا دی.

تقليد له هغو عواملو دی، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر ژوندوروسته، د صحابه، تابعينو او تبع تابعينو د زماني تر تېرېدو وروسته رامنځته سو او د دې مسئلې د ډېر اهميت په موخه، زياتو علماوو د تحليل او څېړني له پاره خپل قلمونه را پورته کړل، لکه: ابن حزم، ابي محمد علی بن أحمد بن سعيد ۲۰۰۵م، ډاکټرعياض بن سامي ۲۰۱۱م، ابن قيم، محمد بن أبي بکر أيوب الزارعي أبوعبدالله په خپل کتاب أعلام الموقعين عن رب العالمين کي، زحيلي، وهبه ۲۰۰۵م کي، نبهاني، تقي الدين ۲۰۰۳م. شوکاني، محمد بن علي بن محمد ۱۳۹۶هـ ق او داسي نورو شرعي څرنګوالی څېړلی دی.

بناءً پر دې چې ذکر سوي ليکني په عربي ژبه او ډېري تفصيلي دي، له همدې امله په ياده موضوع کي په پښتو ژبه او لنډې ليکني ته ډېر ضرورت ليدل کېږي، تر څو زموږ د ټولني ټولو عامو خلکو ته په خپله ژبه شرعي حکم څرګند او عمل ورباندي وشي.

په څېړنه کي هر اړخيز بحث سوی او د تقليد شرعي حکم په ملي ژبه او لنډ ډول واضح سوی دی، هيله ده، چې د لوستونکو له پاره ګټور تمام سي.

د څېړني مواد او تګلاره:

دا چې د تقليد موضوع يوه سوچه علمي موضوع ده او تر شرعي نصوصو (قرآن او حديثونو) او د هغو څخه د علماوو تر استنباطاتو پوري تړلې ده، نو ځکه د څېړني د مختلفو تګلارو څخه په دې موضوع کي پخوانيو آثارو ته کتنه غوره سوې ده، تر ډېره حده په څېړنه کي د معتمدو او باوري سرچينو څخه استفاده سوې ده. هيله ده لوستونکي په دې اړه معلومات تر لاسه کړي. نوربيا...

دورکي اعلانونه

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د سيف الدين د غلام نبي د زوی او د عبدالمحمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0709932051

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د ګلبدين د فقير الدين د زوی او د غلام الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0702491137

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د احمد جان "عبيدي" د نعمت الله د زوی او د حاجي عبيدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0706213009

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د محمدنسيم د عبدالحليم د زوی او د خدای داد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0706362746

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د احسان الله د حاجي سيف الله د حاجي محمد رحيم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0702800182

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د حسنا د عبدالصادق د لور او د عبدالمنان د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0704499538

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د ذبيح الله د عبدالحميد د زوی او د حق داد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0708707055

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د ذبيح الله د احسان الله د زوی او د ګل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0709014752

دورکي اعلانونه

دوې قطعې بر ېښنايي تذکرې چې د عبدالسلام هوتک، عبدالخالق هوتک د عبدالغني زامنو او يار محمد د لمسيانو په نومونو دي، ورکې سوې. هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0708701384

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د معصومه د عبدالباقي د لور او د بسم الله خان د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0700343010

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د شاهدالله د فضل محمد د زوی او د عبدالغني د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0705392246

❋❋❋

څلور قطعې بر ېښنايي تذکرې چې د بي بي معصومه د مولوي زيد خطيبي د لور او د عبدالله خطيبي د لمسۍ، بي بي راضيه د عبدالله د لور او د احمد د لمسۍ، بي بي طيبه د شېر احمد د لور او د محمد رحيم د لمسۍ او احمد د سردار محمد د زوی او د فيض محمد د لمسي په نومونو دي، ورکې سوي دي. هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0708868011

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د محمد نبي د محمد رحيم د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0703473437

❋❋❋

يوه قطعه بر ېښنايي تذکره چې د شمس الله هاشمي د فيض الله د زوی او د نصرالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونيسي: 0700386708

اعتبار نه لري

افغان فېروز د مرغ دانې توليدي شرکت چې د (106111) شمېرې جواز درلودونکی دی. رئيس يې عبدالغفور فېروز د حاجي يار محمد زوی او مرستيال يې محمد فېروز د عبدالله فېروز زوی دی. ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

شعري برخه

د طلوع رنګيني وړانګي

خوب

امان الله "نصرت"

خوب وينم هر خواته د مرغانو آوازونه وي
خوب وينم وطن کي غوړېدلي سره ګلونه وي

ﮘﮘﮘ

خوب وينم فضا کي پروازونه د کوترو وي
شور وي د چنچڼو شنې ځنګلې د نښترو وي
زانې وي هوا کي بلبلان ناڅي باغونو کي
غرونه په ټپو وي آوازونه د سندرو وي
زرکې وي سيسۍ وي د هوسيو کتارونه وي
خوب وينم وطن کي غوړېدلي سره ګلونه وي

ﮘﮘﮘ

خوب وينم واړه زاړه روان وي جوماتونو ته
خوب وينم چې ښکلي ماشومان ځي مکتبونو ته
امن وي سکون وي خوشحالي او خنداګاني وي
ځي نجوني ځوانان خپل پوهنتون خپلو درسونو ته
جېب کي يې قلم او په لاسو کي کتابونه وي
خوب وينم وطن کي غوړېدلي سره ګلونه وي

ﮘﮘﮘ

خوب وينم وږمې وي راخورې د روه له غرونو نه
ږغ د يا قربان راځي د غرونو له سرونو نه
زړونه له مستۍ نه په غورځنګ او په ټوپونو سي
شور د شنو بنګړو راځي د کلي ګودرونو نه
ږغ وي د شپېلۍ نغمه نغمه ورته سيندونه وي
خوب وينم وطن کي غوړېدلي سره ګلونه وي

ﮘﮘﮘ

خوب وينم چې عدل او انصاف وي ظلم زور نه وي
ټول وي سره ورونه ددوی منځ کي سپين او تور نه وي
حق وي مساوات وي يو د بل په خوا کي ژوند کوو
جنګ نه وي وژل نه وي د تورو شوبلو شور نه وي
سوي په سور اور د غليمانو تور جازونه وي
خوب وينم وطن کي غوړېدلي سره ګلونه وي

ﮘﮘﮘ

خوب وينم ځوانان کوي اتڼې اخترونو کي
مينه وي خوښي وي نجوني ګرځي په باغونو کي
ډک وي بازارونه د هر ښار ښکلو خوبانو نه
ناوې د ژوند ډوبه وي ښايست او په رنګونو کي
خوب وينم **"نصرته!"** ښکلی يار وي غزلونه وي
خوب وينم وطن کي غوړېدلي سره ګلونه وي

مســــــــئول مـــديـر : ــــــــ بـريــالـــی "فيـضي"
د تصــحيح مسئـــول : ــــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمــپوز او ډيـــزاين : ــــــــ نصير احـمـد "صــابر"
د مــــديريت شمېره : ــــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره : ــــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پتـــه : ــــــــ علامه حبيبي واټ – اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته : ــــــــ baryafaiz981@gmail.com

د ګڼون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي خپرونه چي د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمريزکال په آخرکي د طلوع افغان تاريخي ورځپاني يو بشپړ کلکسيون ولری، په طلوع افغان ورځپانه کي ګډون وکړئ.

د ګـډون کلنی بيـه ۵۰۰- پنځـه سـوه افغـانی، زده کوونکـو او محصلينو تـه د تصـديق پـه وړانـدي کولـو سـره نيمـه بيـه ټاکل سوې ده. اداره



طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځايه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 ISSue: 7 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتياوي

د تېلو قرارداد کوي

د کندهار د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو رياست، د ۱۴۰۵ مالي کال له پاره (۵۴۲۱۰) لېټره پطرول او (۱۰۸۶۶) لېټره ډېزل د روغنياتو رانيولو قرارداد وکړي. پر شرايطو برابر شرکتونه کولای سي، چي شرطپانه او آفر د اعلان د نشر د نېټي څخه بيا تر لسو کاري ورځو پوري، د ولايت مقام مالي او اداري رياست او د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اورېدلو رياست، د مالي او اداري چارو لوی مديريت څخه ترلاسه کړي. داوطلبي يا د آفر ګشايي ورځ د روان ۱۴۰۵ مالي کال د غويي مياشتي پر دوولسمه نېټه، د دوشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د ولايت مقام په مالي او اداري آمريت کي تر سره کېږي.

دورکي اعلانونه

څه وخت وړاندي د عينو مېني د ملکيت يو سند چي د حاجي تاج محمد د حاجي غلام سخي د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (148)، موقعيت (C2-7) او د فايل نمبر (5471) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يا دي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي. 0700300504 – 0700305088

❋❋❋

څه وخت وړاندي د عينو مېني د ملکيت يو سند چي د خپلواک روښان د عبدالواسع روښان د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (101)، د موقعيت (C2-14) او د فايل نمبر (21292) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي. 0702652701 – 0700305088

❋❋❋

څه وخت وړاندي د عينو مېني د ملکيت يو سند چي د خان الله عزيز ولد عبدالرازق د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (269)، موقعيت (F1- 49) او د فايل نمبر (1725) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي. 0703628360 – 0700305088

زياتوونکي غواړي

يو باب کور چي (288m2) متره مربع مساحت لري، په نهمه ناحيه کي د طالبانو له هديرې سره د حاجي قاري صاحب جامع مخ ته موقعيت لري، د درو رهنمايانو له لوري په مبلغ ۹۰۰۰۰۰/۰ – نهه سوه زره افغانۍ قيمت سوی دی. هر هغه څوک چي ياد کور تر پورته ذکر سوي قيمت په اضافه نرخ غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي تر لسو ورځو پوري د مرافعې محکمې له لوري تعين سوي هيئت ته وسپاري او يا دي پر ذکر سوې شمېره تماس ونيسي: 0704612031

ډېروونکي غواړي

درې بابه دوکانونه چي موازي (20m) متره مربع مساحت لري، په اوومه ناحيه کي د شيخ زاهد پوهنتون په ساحه کي موقعيت لري، د درو رهنمايانو له لوري په مبلغ ۱۶۰۰۰۰/۰ – يو سل او شپېته زره افغانۍ قيمت سوی دی. هر هغه څوک چي ياد کور تر پورته ذکر سوي قيمت په اضافه نرخ غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي تر لسو ورځو پوري د مرافعې محکمې له لوري تعين سوي هيئت ته وسپاري او يا دي پر ذکر سوې شمېره تماس ونيسي: 0704612031

خبرتيا!

اکبر حسن صرافي او پولي خدمتونو شرکت، چي مخکنۍ پته يې کندهار صرافي تجارتي مارکېټ، دوهم منزل اتلسم نمبر دوکان و، اوس غواړي چي خپل د فعاليت ځای، کندهار صرافي تجارتي مارکېټ، دوهم منزل ۲۴ نمبر دوکان ته انتقال کړي. محترم مراجعين دي خبر وي.

دورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نذير احمد د محمد طاهر زوی او عبدالرحمن د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0701248105

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د فريد احمد محمدي د فضل محمد د زوی او د نوروز د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703666141

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عنايت الله د محمد صادق د زوی او د محمد امين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708401349

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالهادي د عبدالحي د زوی او د حاجي غلام سرور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700201275

(۱) مخ پاته: **د اروپايي اتحاديې ځانګړي استازي: افغاني...**

هغه د افغانستان د سوداګريزو چارو په اړه ويلي چي د اروپا دروازې د افغانستان د صادراتو پر مخ خلاصې دي، افغاني توکي په اروپا کي ښه بازار لري او خلک يې خوښوي، په ځانګړي ډول وچه مېوه.

د هغه په قول، اروپايي بازارونو ته د افغاني توکو د لاسرسي له پاره هڅې ګړندۍ سوي دي. په پای کي دواړو لورو د لا ښې همږغۍ له پاره پر دوامداره ناستو ټينګار وکړ.

(۱) مخ پاته: **د ښاري ماسټر پلان تجديد نظر...**

ژره تخنيکي ټيمونه کندهار ته واستول سي.

د همدې هدايت پر بنسټ، د کور او ښار جوړولو وزارت لومړی تخنيکي پلاوی کندهار ته رسېدلی او خپل تخنيکي فعاليتونه يې پيل کړي دي. په همدې تړاو، د کندهار ښاروالۍ د غونډو په تالار کي يوه مهمه غونډه تر سره سوې، چي په کښې د کور او ښار جوړولو وزارت راغلي مسلکي پلاوي، د کندهار ښاروال، د ښاروالۍ مرستيالانو، رئيسانو، آمرينو او د ښار د پنځلسو ناحيو مسئولينو ګډون کړی و.

په ياده ناسته کي د کندهار ښار د پراختيا، د ښاري نظم ټينګښت، د زړو بناوو معياري کېدل او د يو جامع او اوږدمهاله ماسټر پلان پر اړتياوو هر اړخيز بحثونه تر سره سول. ټاکل سوې ده چي په نژدې راتلونکي کي به د ياد وزارت دوهم مسلکي پلاوی هم کندهار ته راورسېږي، تر څو تخنيکي آرزوني لا پراخي او ګړندۍ کړي.

د ياد بهير په بشپړېدو سره به کندهار ښار د يو عصري، منظم او معياري ماسټر پلان څښتن سي، چي له مخي به يې د ښار د اوږدمهالو ستونزو حل، متوازنه پراختيا او ښاري خدماتو اغېزمنتيا يقيني سي.

(۱) مخ پاته: **د اوبو کانال جوړ او ګټې اخيستني...**

پراختيا رياست له لوري د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام په مالي مرسته، د لوړ ميوند ولسوالۍ د ګرم آبک په کلي (3.2) ميليونو افغانيو په لګښت، د (۶۵۰) متره په اوږدوالي جوړ سوی دی.

د ياد کانال په کاري جريان کي لسونو تنو کارګرانو ته کاري زمينه برابره سوې او په بشپړېدو سره يې د يادي ولسوالۍ د اوسېدونکو سوونه جريبه کرهنيزه مځکه خړوبه، د سېلابونو او موسمي بارانونو له زيانه خوندي سي.

(۱) مخ پاته: **مهاجرينو ته د پاکو اوبو رسولو...**

ياده شبکه د اسلامي امارت په ځانګړې بودجه جوړه سوې چي په کښې ۲۰ متره مکعبه په وړتيا، د پاکو اوبو يوې فلزي ذخيرې جوړول او د ۲۸ عدده سولري تختو نصبول شامل دي.

د يادي شبکې په کاري جريان کي لسونو تنو کارګرانو ته کاري زمينه برابره سوې او په بشپړېدو سره يې هيواد ته بيرته راستنېدونکو کورنيو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پيدا کړ.

(۱) مخ پاته: **له اړمنو کورنيو سره د خوراکي...**

د يادو اړمنو چي خاوندان يې يا نادر که، صعب العلاجه ناروغان او يا هم په نشه توکو روږد کسان وو، ناروغان يې د درملني له پاره د تداوۍ مرکزونو ته او روږد کسان يې د درملني مرکز ته معرفي سوي دي.

د يادوني وړ ده، چي د نشه يي توکو په وړاندي د مبارزې مديريت ټولو اړمنو کورنيو ته ورکړل سوې مرسته د هغوی تر کورونو پوري ورسول سوه.

همدار راز په تېره مياشت کي هم يو تعداد بې روزګاره خلک د ياد مديريت له لوري ښاروالۍ ته د کار موندني په موخه معرفي سوي او ۳۰۰ تنه سوالګر ماشومان، خپلو کورنيو ته په تضمين سپارل سوي دي.

(۱) مخ پاته: **د ښاري ترافيکي نظم د تأمين له...**

د اسنادو تر بشپړېدو وروسته به د قانون له مخي د فعاليت اجازه ورکول کېږي. له درنو ښاريانو څخه هيله کېږي چي خپل وسايط قانوني ثبت او راجستر کړي او ترافيکي اصول مراعات کړي.

دورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محمد عيسی بابري د عتيق الله د زوی او د حاجي هدايت الله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700385598

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عزت شاه آغا د سيد ناني آغا د زوی او د سيد ملنګ آغا د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700206313

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د غلام حضرت د سلطان محمد د زوی او د عيسی جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708021622

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د اجمل فقيرزاده د عبدالبصير د زوی او د عبدالسلام د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0799248992

ټولنيزي رسنۍ

میر احمد "احمدي":

يوه ورځ عمران بن حطان خپلي مېرمني ته ورغی. عمران ډېر بدشکله او ټيټ قد والا و، خو مېرمن يې ډېره ښکلې وه او دغه وخت يې ځان هم جوړ کړی و. کله چي عمران ورته وکتل، نو سترګي يې نه ورڅخه ختلې او په ځير يې ورته کتل.

مېرمني يې ځني وپوښتل: څه خبره ده؟ ولي داسي راته ګورې؟

عمران وويل: په رب جل جلاله قسم چي نن ډېره ښکلې ښکارې!

مېرمني يې ورته وويل: زېری مي دربادې، زه او ته دواړه به په جنت کي يو!

هغه وپوښتل: دا څنګه درته معلومه سوه؟

مېرمني يې په جواب کي وويل: ځکه چي تاسو ته زما په څېر مېرمن درکړل سوه او تاسو شکر پر ادا کړ او زه ستا په څېر مېړه باندي امتحان سولم او ما صبر پر وکړ، صبر کوونکي او شکر کوونکي دواړو ته د جنت زېری ورکړل سوی دی.

کتاب الظراف

تاسو شاکر ياست او که صابر؟!

Zahran:

د کاروبار د بريا پنځه قوي رازونه:

که غواړې خپل کاروبار بل پړاو ته يوسې؛ دا ټکي عملي کړه!

۱– واضح هدف او پلان ولره:

بې له هدفه کاروبار، بې لوري کښتۍ ده، خپل هدفونه مشخص کړه او يو عملي پلان ورته جوړ کړه!

۲– د مشتريانو اړتياوي وپېژنه:

هغه کاروبارونه بريالي کېږي چي د خلکو ستونزي حل کړي، د خپلو مشتريانو غوښتني او اړتياوي درک کړه!

۳– کيفيت ته لومړيتوب ورکړه:

ښه کيفيت تل مشتريان راجلبوي او وفاداري رامنځته کوي، کمزوری کيفيت ستا نوم خرابوي.

۴– دوامداره زده کړه او نوښت:

بازار تل بدلېږي، نوي مهارتونه زده کړه او خپل کاروبار ته نوي لاري – چاري پيدا کړه!

۵– صبر او استقامت ولره:

بريا په يوه ورځ کي نه راځي، ستونزي به وي، خو که صبر او دوام ولري، آخر به بريا ترلاسه کړي.